**بسم الله الرحمن الرحیم**

## په ډیموکراتیکو ګوندونو کې د ګډون حکم
## (ژباړه)

پوښتنه کوونکی: هېشام بني بکر

**پوښتنه:**

السلام علیکم ورحمته الله وبرکاته، زه غواړم په پارلماني ګوندونو کې د ګډون په تړاو له نصوصي پلوه په اسلامي حکم پوه شم. الله سبحانه وتعالی دې اجر درکړي.

د پوښتنې په تړاو وضاحت: د رایې شمېرنې یا ګوندونو تنظیمونې او د ګوندونو په تړاو خبرونو یا شمېرو کې ښکلېلتیا د ګوندونو له ماهیت سره تړاو نه لري.

**ځواب:**

وعلیکم السلام ورحمته الله وبرکاته!

د شریعت له پلوه اوسنۍ پارلماني ګوندونو ته ګډون روا نه دي، ځکه شته نظامونه به ریاستي یا پارلماني وي او دوی د هېواد د قانون جوړونکې شورا لپاره ګوندونو ترسره کوي، چې یاد کار له شریعت سره ټکر لري ... له همدې امله په هغه کې ګډون، یا د هغه په پلي کولو کې به مرسته یا په هغه کې د ګډون په تړاو تبلیغات یا ملاتړ یا دې ته ورته نورې کړنې روا نه دي.

خو که ستا کار له «ګډون، پلي کولو، هڅونه او ملاتړ» له موضوعاتو سره تړاو نه لري، څرنګه چې تاسې په خپله پوښتنه کې (رایه شمېرنه) ذکر کړې ده او زه یاد څلور شیان بیا ځلې تکراروم «ګډون، پلي کول، هڅونه او ملاتړ»، که ستا کار یوازې له شمېر سره تړاو ولري یا نه، د رایو شمېرنه وي، نو په دې صورت کې دغه موضوع تر حرام لاندې نه راځي. خو پوښتنه دا ده چې: ایا ته تضمینولی شې چې ستا شمېرنه له ذکر شویو کړنو سره نغښتې نه ده؟ که ته تضمینولی شې نو کار دې حرام نه دی... خو غوره دا ده چې یاد کار ونه کړې، ترڅو د یادو نظامونو مشران په ګوندونو کې د کار کولو لپاره توجیه پیدا نه کړي. ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابو کرامو رضی الله عنهما حرامو ته د نیږدې کېدو له امله له ډېرو روا کړنو څخه ځانونه ساتل. د الله سبحانه وتعالی پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«**لَا يَبْلُغُ العَبْدُ أَنْ يَكُونَ مِنَ المُتَّقِينَ حَتَّى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهِ حَذَراً لِمَا بِهِ البَأْسُ**» [ترمذي وایې دغه حدیث حسن دی]

***ژباړه:*** *یو بنده تر هغه وخته پورې متقي کېدای نه شي ترڅو هغه حلال کار پرېنږدي چې په حرامو کې د واقع کېدو لامل ګرځي.*

د دې موضوع په تړاو زما همدغه نظر دی او الله سبحانه وتعالی غوره حکیم او غوره عالم دی.

**ستاسې ورور عطان بن خلیل ابوالرشته**

**۱۴۴۲هـ.ق، د جمادی الاخر ۳۰مه**

**۲۰۲۱م، د فبروري ۱۲مه**

**ژباړن: صدیق احمدزی**